# فخر افغان باچا خان

ګلاب ناصر یوسفزے

پرهرونه مې تازه بیا د ځیګر شو
سوې کریکې مې بیا لاړې تر اسمانه

ما د سوي زړهٔ داغونه تاله راوړل
د کلیزې په ورځ ستا فخرافغانه

حضرت باچا خان بابا د چارسدې ضلعې اتمانزو نومي کلي کښې محمدزو قبیلې د خوازي خېلو شریف خېلو د مشر خان بهرام خان بابا په کور کښې پېدا شوے ؤ. د حضرت باچا خان بابا پلار بهرام خان ډېر نېک بهادر انسان ؤ. هغهٔ باچا خان ته د قوم د خدمت او قوم پرستۍ لار ښودلې وه. د حضرت باچا خان نیکهٔ خان سیف الله خان بابا هم ډېر نېک سړے او د نورو خانانو په شان د انګرېزانو خوشامندګر نهٔ ؤ، هغه ډېر بهادر مجاهد ؤ، د پېرنګي په مقابله کښې ئې د بونېر په جنګ کښې د قام مرسته او ملګرتیا کړې وه، کومه چې سُرکاوۍ په غزا یادېږي او د قام پرستۍ په جرم کښې د باچا خان بابا غور نیکهٔ خان عبیدالله خان د دوران حاکم سلطان محمد خان پانسي کړے ؤ. د باچا خان په رګونو کښې د محمدزو قبیلې د هغه نرانو پښتنو وینه وه نو بله خوا ئې د یوسفزو قبیلې د یوې پښتنې مېرمنې شودهٔ څښلي وو، کومه چې د صوابۍ د مرغز د یوسفزو قبیلې د یو لوئے خان محمدین خان لُور وه. حضرت باچا خان هغه قامي مشر ؤ چې هغهٔ یوځل د خدائے د مخلوق خدمت ته د الله د رضا دپاره ملا وتړله نو بیا نهٔ هغه په ګرځېدو ستړے شو، نهٔ د قېدوبند مصیبتونو د هغهٔ حوصله ماته کړه. د پېرنګي ظلمونو او بدسلوکۍ د هغهٔ په لاره کښې خنډ نهٔ شو اچولے، نهٔ د خپلو مسلمانانو ورونو بې وفایۍ الزامونو، پېغورونو او نهٔ د ناترسه حاکمانو جبر زیاتي د هغهٔ په صبر کښې فرق راوستے شو. هغهٔ د مخلوق د خدمت وعده کړې وه او دا چې دا خدمت به تر هغه وخته جاري ساتي تر کومې پورې چې د هغې سترګې غړېږي او لاسو پښو کښې ئې دم وي. حضرت باچا خان د مولوي عبدالعزیز صاحب په ملګرتیا په قوم کښې د ذهني بېدارۍ پېدا کولو دپاره مدرسې جوړې کړې. بابا یو خدائي خدمتګار، یو مخلص، روشن خیال انسان ؤ، په قام مئین او د قام د اتحاد ارماني ؤ خو بیا ناپوهه ملیان د دوي په لار کښې خنډ شول خو چې هر کله د ترنګزو حاجي صاحب د دې کار مشري قبوله کړه نو ډېره کامیابي ئې حاصله کړه.



حضرت باچا خان د مولانا عبدالعزیز، مولانا محمود الحسن، مولانا سیف الرحمان، مولانا عبیدالله سندهي، مولانا عزیرګل صاحب، فخر هند مولانا شبیراحمد عثماني صاحب وغیره تعلقاتو متاثره کړو نو هغه د ازادۍ او قامواليٰ مینې له زیاته وده ورکړه، په دغه وخت کښې د انګریزانو د حکومت پنجې د پښتونخوا په سمه غرښخې شوې وې.

پېرنګي د هندوستان نه علاوه په پښتونخوا بلوچستان سیمه، سوات، دیر، باجوړ، قبائلي علاقو بلکې د افغانستان په حکومت هم ګوډه اېښې وه. په مسلمانانو ئې ډېر ظلمونه کول. باچا خان کلي په کلي ګرځېدو، خلق ئې د ازادۍ په نعمتونو پوهول. بیا په دسمبر ۱۹۲۱ء کښې ګرفتار شو، د باچا خان جرم دا ؤ چې دا سړے د پښتنو په کلو کوځو ګرځي، مدرسې جوړوي او په خپل قام کښې د علم رڼا خوروي، د ازادۍ، خپلواکۍ خبرې کوي په دې جرم کښې درې کاله قېد شو. انګرېزانو به په جېلونو کښې د پښتنو سره ډېر زیات ناروا سلوک کوو او بیا باچا خان خو د بغاوت په جرم کښې قېد کړے شوے ؤ نو په یوه تنګه کوټګۍ کښې به ئې بند ساتلو، په دې کښې به دې نازولي خان مونځ هم کوو، ډوډۍ به ئې هم خوړه ولې د ازادۍ خپلواکۍ مجنون ؤ، د قام د خېر ښېګړې، اتحاد، خوشحالۍ ارماني ؤ او لکه د غر په خپل ځائے ټینګ ولاړ ؤ او دا سختې ئې د هر پښتون د روښانه مستقبل دپاره په روڼ تندي زغملې. د قېدوبند دا سلسله د ۱۹۱۹ء نه شروع وه او د بابا د ژوند تر اخره جاري وه. هغۀ دا ټول تکلیفونه زغمل، بیا په ۱۹۲۵ء کښې افغانستان ته لاړو او هلته ئې غازي امان الله خان سره ملاقات وکړو.

۱۹۲۹ء کښې بابا خدائي خدمتګار په نوم یو تنظیم جوړ کړو چې د عدم تشدد په اصولو به ئې په تشو لاسو د پېرنګي د فوځ سره مقابله کوله. دې ظالم قوم به په دوي ګولۍ چلولې، دوي به ورته خپلې سینې ډال کړې وې، باچا خان غوښتل چې پښتانۀ نر ښځې تعلیم وکړي او د اسلام په اصولو عملي مېدان ته راووځي. بابا غوښتل چې دا خلق د محنت مشقت عادت شي. تجارت یوائې هندانو ته نۀ پرېږدي، ویښ شي، خپل ځان له ازادي وګټي، د پښتنو دا خان ساده باده انسان ؤ، ساده جامې به ئې اغوستې، ساده خوراک به ئې کولو، پیاده به ګرځېدو، دې د امن باچا به پښتانۀ د کورنو جنګونو نه منع کول، د غلطو رسمونو، رواجونو نه ئې منع کول، په دوي کښې به ئې اوچت اخلاق او صبر پېدا کولو، د دوي د زړونو نه به ئې د پېرنګي ویره ویستله، هغۀ غوښتل چې پښتانۀ د دنیا د نورو قومونو سره سیالي وکړي. باچا خان ډېر رښتونے ؤ، د هغۀ حوصله ډېره لویه وه، دومره بهادر سړے به خدائے خبر چې بیا کله پېدا کېږي، هغه به په تشو لاسو د پېرنګي سره جنګېدو، په خپلو خبرو او تقریرونو کښې به ئې د حضرت محمد(ص) د هغۀ د صحابه کرامو(رض)، د حضرت امام حسېن(رض) د عملي قربانۍ مثالونه ورکول. یو مشهور عالم دین محمد امام الدین صاحب فرمائیلي وو چې باچا خان په ظاهره هم فقیر دے او په باطن هم فقیر دے. د باچا خان د جېلونو او مصیبتونو قیصه ډېره اوږده ده. هغه په ۱۸۹۰ کښې پېدا شوے ؤ او خواؤشا ۱۰۰ کاله ژوندے ؤ او اخر په ۲۰ جنوري کال ۱۹۸۸ء کښې وفات شو او جلال اباد افغانستان کښې خاورو ته وسپارلے شو.